محمد هارون خپل شعشعی


۱۶ نومبر ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۶۸

**۱۳۵- کبير او صغير عالَم : وګورئ  د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي لوی او کوچنی ( کبير او صغير ) عالَم**

**۱۳۶- کثيف، لطيف او اُلطُف :**

کثيف، لطيف او الطف د اسلامي تصوف او عرفان، له مشهورو اصطلاحاتو څخه دي . صوفيان او عارفان د کايناتو ګرد موجودات د يوه صانع صنعت ګڼي، چي په بېلابېلو بنو او کيفيتو څرګنديږي .

کثيف موجودات له څلورو عنصرو( خاوري، اوبو، هوا او اور) څخه جوړ سوي دي . له دی سَوَبه مُکَدر او تاريک دي . کثيف جسمونه د وخت په تېرېدو سره، تغيير او بدلون مومي .ياني د خپل ټاکل سوي عمر تر تېرولو وروسته له منځه ځي؛ او پر ځای يي نور زېږي . د هستی او نيستی دا بهير تل تر تله په همدي ډول پايښت مومي؛ د مثال په توګه خاوره په ختو او خښتو اوړي؛ له ختو او خښتو څخه کورونه يا نوري ودانی جوړيږي؛ کور ونه يا نوري ودانی هم په خپل وار سره تر څه زماني وروسته نړيږي؛ اوبيرته په خاورو او ختو اوړي . د طبيعت پر مخ ټول موجودات او جسمونه، په واقعيت کي د مرګ او ژوند دغه راز بدلونونه ګوري . ځيني بدلونونه په ډېري اسانی سره ليدل کيږي، خو د ځينو بدلونو او تغييراتو د پوهېدو دپاره و ډېر عمر يا باطني سترګو ته اړتيا يي (وي) .

لطیف جسم د کثیف پر خلاف، په سترګو نه مالومیږي؛ اونه هم دکثیف جسم په څېر هیڅکله د مرګ او نېستی له خطر سره مخامخ کیږي . په اسلامي تصوف او عرفان کي، جِن، انساني اروا او د اروا په شان نور نامريي موجودات، د لطیفو جسمو په نامه یادیږي .

د الطف عرفاني او فلسفي اصطلاح، هغي هستی دپاره کاریږي، چي د کایناتو هیڅ لطیف موجود یې له لطافت او شفافیت سره د پرتلي وړ نه دئ . دا هستي د حق تعالی بې مثله ذات دئ، چي د هر کثیف او لطیف موجود د حیات او ممات منشا او مبدا ده . لکه څنګه چي شمعه له ډېوی، ډېوه له څراغ، څراغ له بجلي، بجلی له ستوري، ستوری له سپوږمی او سپوږمی له لمر سره نسبي پرتله کېدای، په همدي ډول د لمر رڼا او شفافیت هم د الهي ذات له همېشنی رڼا، بې شانه شفافیت او بې نظیره لطافت سره د مقایسي او پرتلي وړ نه دئ . دغو لویو توپیرو ته په پام سره، د اسلامي تصوف او عرفان مخکښانو په خپلو وېناوو او لیکنو کي د مادي عالَم د بیان او تشریح دپاره د « جسمو عالم »، « د شهود عالم »، « د محسوساتو عالم »، « ظُلماني عالم »، « مُرکب عالَم » او داسي نور عرفاني او فلسفي اصطلاحات کار کړي دي . د لطیفو جسمو عالم یې « د اروا عالم »، « د مانا عالم »، « د راز عالم »، « د خیال عالم »، « نوراني عالم »، « د غیب عالم »، « د مثال عالم »، « بسیط عالم » او داسي نورو په عرفاني نومو هم یاد کړئ دئ . په داسي حال کي چي د لوی څښتن د بېچګونه او بې نمونه هستی دپاره « د ذات عالم »، « د جانان عالم »، « تلپاتی یا همېشنی عالم »، « د لاهوت عالَم »، « د احدیت عالَم » او داسي نور عرفاني اصطلاحوي استعمالیي .

له مفکر او صاحب نظر عرفاني لاربنود - بایزید روښان ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) څخه چا پوښتنه وکړه، چي له خدای سره دي حال څرنګه دئ؟ ورته ویې ویل : « کله هغه او کله له هغه څخه . یاني کله لوړېږم؛ او د لطافت پړاو ته رسېږم؛ کله نزول کوم؛ او د کثافت و پړاو ته را کښته کېږم . په بله ژبه، کله کله ځان دریاب وینم؛ او کله کله خپل ژوند او ژواک له دي دریابه بولم ۱ . »

زموږ نوښتګر او ژور اندېشه عرفاني شاعر، علي محمدمخلص، په خپل عارفانه کلام کي د کثیف، لطیف او الطف دا دریِ عالمونه، په ډېر ژور او رنګین ډول بیان کړي دي . هغه، په یوه الفنامه کي خپل لوړ خیال او ژور فکر داسي انځوریي :

ج جمله عالم حُبـاب دئ
زاد و بود يې په دريـاب دئ
دا حُبـاب ګوره دوه ډوله
که دي عقل ویښ له خواب دئ
يو لطيف دوهم کثيف شه
که باور دي په کـتاب دئ
دا الطف د حق هستي ده
پري بينا عارف اربـاب دئ

مخلص، د کثیف، لطیف او الطف عرفاني مسألي د وحدت او کثرت په یوه ژور عرفاني او فلسفي تصویر کي داسي ګوري :

يو لطيف دئ کثيف شوئ په کـثرت کښي
اور، اوبه، هواسما شه هم غبـيطه

مواليد ثلاثه يې فرزنـــدان دي

مور عنصر، پلار يې آسمان له سوابيطه

يو وجود گورم کثيف، لطيف، الطـــف شه

خاښ و پاڼي، گل، مېوه شي له محيـطه

لاهوت بېخ، جبروت خاښ شه په درخت کښي

ملکوت، ناسوت يې گل، مېوه ربيـــطه

مخلص، په دې بيتوکي د الله تعالی د ټولو عالمو او موجوداتو ماهيت په خورا ځير او دقت سره انځور کړئ دئ . دی ديوه بيدادل عارف په توگه ښيي، چي د کايناتوگرده موجودات، ديوی لطيفي هستی پيداوار دي؛ او په بېلابېلو بڼو او شکلو را ښکاريږي؛ ټول د ځنځير د کړيو په شان سره پيېلي او تړلي دي؛ هيڅکله يو له بله نه جلا کيږي . دا موجودات په يوه عالم کي د زوال او فنا له کاروان سره ملگري کيږي؛ خو په بل عالم کي د ژوند او هستی په بهير کښېوزي . په حقيقت کي يوازي يو وجود او يوه هستي ده، چي په زرو بڼو او رنگو جلوې کيږي . مشکل دا دئ، چي ظاهر بين يوازي ظاهر ويني؛ او په هغو ژورو بدلونويې سر هيڅ نه خلاصيږي، چي زموږ د مادي يا ناسوتي عالم تر شا، د اروا يا خيال په عالم يا تر هغه هم ور آخوا د حقيقتو او ماهيتو په عالم کي پيښيږي . دا پټ جريانونه او بدلونونه يوازي په باطن بينو سترگو ليدل کيږي، چي يوازي د خدای تعالی نازولو ته ورکړل سوي دي . لنډه دا چي عرفاني پوهه او الهي پيروزينه د دغو پټو رازو د پېژندني او موندني ځراغ دئ . د عرفاني لارويانو د باور له مخي، د دې بې ساري ځراغ په مرسته، د هغو پټوحقيقتوله مخي پردې پورته کيږي، چي په انساني سترگو هيڅکله د ليدو او پېژندلو وړ نه دي .

مخلص، انساني اروا د اروا د ستر او تلپاتي عالم يوه برخه گڼي؛ او عرفاني لارويانو ته بلنه ورکيي، چي د اروا لطيف عالم ته د رسېدو هڅه او کوښښ وکي :

که د روح له معرفتـــه خبردار شې!

د مخلص په ځبر به ځان ويني لطيف

مخلص، عرفاني سالکانو ته د هغو موجوداتو د بېلابېلو لومو او زيانو خبرداری ورکيي، چي د عادي انسانانو په سترگو نه ليدل کيږي؛ خو د هغو له شره ژغورنه د عرفان د ځلېدونکي لمر او د معرفت د تېز بينو سترگو په مرسته، په ډېري اسانی سره ممکنه ده . دده عارفانه بيان دئ، چي وايي :

ډېر لطيف، سړی کثيف دئ له کثيف پنهان لطيف دئ

پټ لطيف غل ليده نشي وپټ غله ته بصير اوسه!

بل ځای، په انساني په وجود کي د لطيف او کثيف ديو ځای والي ژوره عرفاني مسأله را سپړي؛ او انسان بلنه ته ورکيي، چي په خپل وجودکي د مُکدرو ظاهري پردو په ليري کولو سره د لطافت عالَم وگوري :

« جسم تو جسم لطيف است در کثـــيف

اين کثيف گشت قشر بر لطيف

مار را دو پوست باشد ای عـــزيـــز

مر ترا جسم دو ای مرد تمـــيز

يک کثيف و يک لطيف هست در وجود

آن يکی باقی ديـگر چـــو دود

چون کثافت از لطافت  شد جـدا
آن کثافت از لطافت شـــد صفـا
چونکه مردی نیست آن جسم لطیـف
خلق داند مرد چون جسم کثـیف ۲ »

**لمنلیکونه**

۱ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان   ۲۶۸

۲ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان   ۱۲۲- ۱۲۳.

پاته لري